مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی

۲۰۲۰/۱۰/۱۸

# غزل

خلک لېوني دي ما سم نه پېژني
زما مستي او ماتم نه پېژني

په سترګو وړ او چا ته نه ښکارېږي
بې غمه خلک دي، غم نه پېژني

هم يې آله او هم خوراک د جنګ کړم
زما همت، زما زغم نه پېژني

پرهر وجود مې د ګنډلو نه دی
ځوک مې پرهر ته ملهم نه پېژني

ويني زما يې په ډالر پلورلي
هغه بادار چې درهم نه پېژني

هر پسرلی لکه خزان تېرېږي
څوک چې کتاب او قلم نه پېژني

مصطفی پسرلی
17/10/2020


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولــئ